# د ”ويښ زلمي“ ملي مترقي نهضت
# وياړلی غړی



## محمدابراهيم خواخوږی

۱۹۲۰ - ۱۹۹۲ م.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

محمدابراهیم«خواخوږی» د در محمد خان زوی د ۱۹۲۰ فروری ۲۸ مه د کندهار په ولایت ماله جات کی زیږیدلی دی. په ۱۹۲٦ کی ښونځی ته شامل شوی او د متوسط دوری له فراغت وروسته دارالمعلمین ته شامل شوی دی، په ۱۹۳۸ کی فارغ او بیاد حبیبی عالی لیسه کی د ښونکی په حیث مقرر شوی دی، دی شاعر هم وو، چی لومړی شعر ئی په ۱۹۳٤ کی د کندهار په طلوع افغان اخبار کی چاپ سوی دی، دی په ۱۹٤٦ کی د کندهار د لیلیی د ښونځی تدریسی آمر وو، او بیا وروسته په ۱۹٤۸م کی د احمد شاه بابا په لیسه کی د مدیر په حیث مقرر سو.

خواخوږی په سیاسی جریانو کی د ویښ ځلمیانو د تحریک یو فعال غړی وو، په ۱۹۵۰ کال د اکتوبر په میاشت کی دی د دوو میاشتو د پاره بندی سو، او په ۱۹۵٦ کی جبراً کابل ته فراره سو، او هلته په پښتو ټولنه کی د مسلکی غړی په حیث مقرر سو، په کال ۱۹۷۵م کی د افغانستان د ریډیو د نشریاتی ریاست د مراقبت د څانگی د مدیر په حیث او بیا د حبیبی لیسی د پښتو د استاد په حیث تعین سو، په ۱۹۵۹ د افغانستان د ریډیو د ریاست

معاون او په استقلال لیسه کی د تاریخ د ښونکی په ډول مقرر سو، په کال ۱۹٦۰ کی د پوهنی ننداری د ریاست د معاون په حیث او د نادری په لیسه کی ئی د تاریخ د ښوونکی په حیث خپلی وظیفی ته ادامه ورکړه په کال ۱۹٦۳م کی د مطبوعاتو د وزارت د ادبیاتو د عمومی مدیر په حیث تعین سو، په کال ۱۹٦٦م کی د اطلاعاتو او کلتور وزارت د کتبو د انتشاراتو موسسی د رئیس په حیث و ټاکل سو.

مرحوم محمد ابراهیم خان خواخوږی په کال۱۹٦٦ کی د محمد هاشم میوند وال سره د مترقی ډموکراتیک په حزب کی خپل سیاسی فعالیت ته ادامه ورکړه، خو بیا وروسته دی او ځنی نور ویښ ځلمیان د دی تحریک څخه وه وتل، په ۱۹٦۷ کی د افغانستان د عامه کتابخانو د رئیس په توگه په ۱۹۷۱ کی د افغانستان د اکادمی د پښتو د تقویی او انکشاف د رئیس په حیث مقرر شو، او په ۱۹۷۳ م کی ئی تقاعد وکی، او د اکتور پر ۲٤ نیټه ۱۹۹۲ کی په هغه ناروغی چی ور پیښه وه وفات شو، دی د کابل په شهدای صالحین کی د خپل سیاسی ملگری عبدالهادی«هادی» تر قبر د څنگه ښخ دی.

دده څخه دا آثار پاته سوی دی:

۱ – د مینی وږمه د اشعارو مجموعه.

۲ – حکایت ندی حقیقت او درد دی.

۳ – یوه ژړونکی منظره.

٤ –مرغلره او نور خان

۵ – شین خالی او گلالی.

٦ – گوستالوبون کلمات قصار

۷ – دوه ځوانی مرگ مینان

۸ – د اشعارو دوهمه مجموعه

۹ – د اشعارو دریمه مجموعه.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017